رسول الله صلى الله عليه وسلم نه فاحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت ګرځېدلی وي) او نه متفحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت نه وي خو په عمدي توګه يې کوي) نه په بازارونو کې چيغې وهونکی و او نه يې بدې ته په بده ځواب ورکاوه، بلکې بخښنه يې کوله او (خلکو ته د هغوی له بديو) به تېرېده

ابو عبدالله الجدلي وايي: ما (د مؤمنانو له مور) عائشې رضي الله عنها څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه پوښتنه وکړه، نو هغې وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم نه فاحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت ګرځېدلی وي) او نه متفحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت نه وي خو په عمدي توګه يې کوي) نه په بازارونو کې چيغې وهونکی و او نه يې بدې ته په بده ځواب ورکاوه، بلکې بخښنه يې کوله او (خلکو ته د هغوی له بديو) به تېرېده.

[صحيح دی] [الترمذي او احمد روايت کړی دی]

د مؤمنانو له مور، عايشې رضي الله عنها څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اخلاقو په اړه پوښتنه وشوه، نو هغې وويل: د هغه صلى الله عليه وسلم په طبيعت کې نه فحش و، نه بدخويي، نه يې په خبرو او نه کړنو کې بدوالی و، نه به يې له ځانه فحش جوړول او نه به يې قصداً پوچې ويناوې کولې، نه به يې په بازارونو کې غږ لوړاوه او نه به يې بد ته په بد ځواب ورکاوه؛ بلکې د نېک بدله به يې ورکوله، او په زړه کې به يې بخښنه کوله، او په سکاره به يې له بديو تېرېدنه کوله.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10974